مېرمن بنفشه يعقوبي وپېژنئ

معلوليت کمزوري نه ده، افغانستان کې داسې معلوليت لرونکې مېرمنې شته، چې د نورو مېرمنو ملاتړ او لاسنيوی کوي.
بنفشه يعقوبي يوه له هغو مېرمنو ده، چې په دواړو سترګو نابينا او دېرش کاله عمر لري. د خپل نابينا مېړه مهدي سلامي سره په شريکه يې د نورو نابيناانو لپاره د زده کړې يو مرکز جوړ کړی دی. دغه مرکز کې مېرمنو، نارينو او ماشومانو ته د زده کړې سربېره رواني مشورې هم ورکول کېږي، تر څو خپل معلوليت درک او د ژوند چارې په ښه توګه مخته يوسي.
آغلې بنفشه يعقوبي د نابيناانو د حقونو غوښتنې لپاره څو مبارزه کوي. نوموړې معلوليت لرونکو وګړو لپاره د عدالت غوښتنې شبکې غړې هم ده. بنفشه يعقوبي د حق غوښتنې د مبارزو تر څنګ په فرهنګي برخه کې هم فعاله ده او د نابينا وګړو د زړه غږ ته د شعر جامې ور اغوندي. نابينا وګړو ته يې ډېرې ترانې ليکلې او د دوی له لوري زمزمه لوري د موسيقۍ او نورو الاتو سره زمزمه شوي دي.
مېرمن يعقوبي وايي: افغانستان کې ډېرې کمې مېرمنې لرو، چې لوړ مقام ته د ځان رسولو لپاره مبارزه کوي، نوموړې د خپل پرمختګ لامل خپله کورنۍ ګڼي وايي: منم يې، چې نابينا يم، خو له ماشومتوبه تر اوسه کورنۍ راسره داسې چلند کړی، چې هيڅ کله يې د نابينايي احساس نه دی راکړی. ډېرې کورنۍ شته، چې خپلو معلوليت لرونکو ماشومانو سره څنګه چې پکار ده، هغسې چلند نه کوي، حال دا، چې دغه ماشومان ځانګړې ورتياوې لري او کورنۍ يې بايد دوی ته فکر وکړي.
آغلې يعقوبي د سياسي علومو په برخه کې لوړې زده کړې کړې دي او په نړيوالو اړيکو کې يې ماسټري اخيستې ده او اوسمهال د دوکتورا اخيستو لپاره هلې ځلې کوي. نوموړې د خپل ژوند په اړه وايي: پينځه کاله وړاندې مې له ښاغلي مهدي سلامي سره په خپله خوښه واده وکړ، ډېره ورسره خوشحاله يم او د دوه ښو ملګرو په څېر ژوند کوو.
مېرمن بنفشه يعقوبي په ټولنه کې له نابينا وګړو سره د خلکو د بد چلند نه ځورېږي، خو هيله منه ده، چې يوه ورځ به د ټولنې فکر د دوی په اړه په مثبت اړخ ته واوړي.
آغلې يعقوبي د کابل ښار د لويديځې څنډې په يوه کرايي کور کې ژوند کوي او په همدې کور کې ګڼو ماشومانو او مېرمنو ته په مختلفو برخو کې زده کړې هم ورکوي. په کور کې يې د ګڼو ماشومانو او مېرمنو په ليدو سړی د انساني خواخوږۍ يو رنګين منظر ليدلای شي او ذهن ته يې دا خبره راځي، چې يوه نابينا جوړه، چې هيڅ څه نهويني، خو زړونه يې د ليد رڼا لري، څومره په لوريينه، پېرزوينه او مينه معلوليت لرونکو وګړو ته د ژوند کولو چل ورزده کوي او د نيمګړتيا او نااميدۍ احساس يې له منځه وړي.
بنفشه يعقوبي مخکې د رهياب په نامه د يوې موسسې مشره وه، چې نابينا وګړو ته يې په مختلفو برخو کې زده کړې او د وړتيا لوړونې پروګرامونه برابرول. نوموړې اوسمهال اطلاعاتو ته د لاسرسي خپلواک کمېسيون کمېشنره ده.